# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر اتمه | ٦٤٢مه ګڼه


# حکومت د امریکا او طالبانو پر وړاندې؛

## ارګ: د نورو بندیانو خوشي کول په بین الافغاني مذاکراتو کې له پرمختګونو سره تړلي



۳



د پوهنې وزارت د وروستیو پرېکړو تر شا څه دي؟ ۲ مخ

آموزش تفکر برای جامعه، راهی برای دستیابی به صلح پایدار در افغانستان ۲ مخ

افغانستان مسلح کشتار افغانها و یا میدان بزکشی برای دیگرا! مقصر کیست؟ ۳ مخ


ځېره


۴ مخ

## ټوماس ټرانسټرومر

ټوماس نه یوازې دا چې قافیه واله شاعري یې پرېښوده، بلکې په شعر کې یې د وزن خیال هم نه ساته. هغه پېچلي کلمات نه کارول، ښه انځور یې وړاندې کاوه او په شعر کې یوازې اهنګ ته متوجې و، ځکه خو یې د نوبل جایزه هم وګټله.

## په لوګر کې د ۳۱۸ میلیونو افغانیو په لګښت د ۱۷ پروژو چارې بشپړې شوې



د لوګر سیمه ییز چارواکي وایيچې په دغه ولایت کې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د ۳۱۸ میلیونه افغانیو په لګښت د ۱۷ پروژو چارې بشپړې شوې. دوی زیاتوي چې ډېری دغه پروژې د کرنې، مالدارۍ، بڼوالۍ، لبنیاتو او د اوبو لګولو په برخه کې بشپړې شوې دي. د لوګر والي محمد اجمل شاپور د دغه پروژو بشپړېدل د کرنې او مالدارۍ د پیاوړتیا او معیاري کېدو په برخه کې د افغان حکومت ژمنتیا څرګندوي. هغه زیاتوي: «په یوه غریب هېواد او ولایت کې د زراعت په سکټور کې د څه باندې درې سوه میلیونه افغانیو په لګښت د دومره پروژو پلي کېدل، دا دې دولت د ژمنو عملي کېدل دي، چې تاسې سره یې کړې دي.»

بلخوا د لوګر د کرنې رییس عبدالله تسل وایي، چې د یادو پروژو لګښت د کرنې او مالدارۍ وزارت، مالیې وزارت او د یو شمېر نړیوالو ادارو او موسساتو له خوا ورکړل شوی دی.

## ولسي جرګه: د طالب بندیانو په اړه د امریکا دریځ د اندېښنې وړ دی

د ولسي جرګې غړو په کابل کې د امریکا د سفارت د شارژدافیر پر وروستیو څرګندونو غبرګون ښودلی دی.

د ولسي جرګې غړو د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال وویل چې افغان حکومت د بین الافغاني مذاکراتو تر پیل وړاندې د طالبانو پنځه زره بندیان خوشي کړي چې په هېواد کې یې پر روان وضعیت او د اوربند پر رامنځته کولو هېڅ راز مثبت اغېز نه دی کړی. دوی وایي چې له معقولو دلایلو پرته د طالبانو د زندانیانو خوشي کول، نه یوازې دا چې سوله نه شي راوستلی، بلکې د وضعیت د لا ترینګلتیا او کړکېچ لامل کېږي.

وکیلانو د امریکا د شارژدافیر راس ویلسن وروستۍ څرګندونې د جدي اندېښنې وړ بللې دي او په خبره یې، د ولسي جرګې غړي له اوربند او سولې پرته د نورو طالب بندیانو له خوشي کولو سره مخالفت کوي. دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې د امریکا د سفارت شارژدافیر ویلي چې وسله وال طالبان په راتلونکو څو ورځو کې د خپلو اوو زرو بندیانو د خوشي کولو غوښتنه کوي. هغه ټینګار کړی و چې دا د دوحې هوکړې برخه ده او هوکړه باید عملي کړل شي.

## اروپایي ټولنه: د هدفي بریدونو او وژنو د عاملینو خوندیتوب دې ژر تر ژره پای ته ورسېږي




۵ مخ


## سپیدار: شورای عالی مصالحهٔ ملی مرجع نهایی تصمیم گیری در بخش صلح است



متن توافق سیاسی بین عبدالله و غنی و اظهارات آگاهان نشان میدهد که شورای عالی مصالحهٔ ملی تنظیم کنندهٔ امور صلح است و در این رابطه صلاحیت فیصلهٔ نهایی نیز با خود دارد.

پس از آن که نتایج انتخابات ریاست جمهوری سال ۱۳۹۸ در افغانستان بین دو نامزد مطرح (عبدالله و غنی) از اثر اختلاف جنجالی شد، بین رئیس جمهور غنی و عبدالله تفاهم سیاسی صورت گرفت که بر اساس آن شورای عالی مصالحهٔ ملی ایجاد و رئیس آن داکتر عبدالله عبدالله تعیین شد.

اما حالا سیاسیون مختلف پیرامون صلاحیت این شورا اظهارات مختلف ارایه میکند که تشکیل این شورا حدود شش ماه قبل اعلام گردیده است؛ اما اولین نشست را دو روز پیش راه اندازی کرد.

اولین نشست این شورا روز گذشته تحت رهبری مشترک رئیس جمهور غنی و داکتر عبدالله راه اندازی شد و هر دو رئیس در سر میز در کنار یک دیگر نشسته بودند.

عبدالله در این نشست گفت که فلسفهٔ وجودی این شورا اخذ تصامیم در روند صلح و ایجاد اجماع سیاسی در این مورد می باشد.


فریدون خوځون سخنگوی شورای مصالحهٔ ملی نیز میگوید که این شورا تمام روند صلح را مدیریت میکند و مرجع نهایی تصمیم گیری در بخش صلح است. وی گفت، تصمیم نهایی یک تصمیم جمعی خواهد بود و تمام طرف ها در آن حضور خواهند داشت.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

# د پوهنې وزارت د وروستیو پرېکړو تر شا څه دي؟

پوهنې وزارت په دې وروستیو کې ځینې گامونه اخیستي چې پراخ غبرگونونه یې را پارولي دي. په دې وزارت کې د اسلامي تعلیماتو معینیت له منځه تللی او څو معینیتونه سره یو ځای شوي دي. دغه راز پوهنې وزارت وایي چې له دې وروسته به له لومړي تر درېیم ټولگي پورې زده کوونکي د ښوونځي پر ځای جومات ته ځي او هلته به زده کړې کوي او چې کله څلورم ټولگي ته رسیږي، نو بیا به ښوونځیو ته ځي.

پوهنې وزارت د خپلو پرېکړو لپاره بېلابېل دلایل راوړي، د تشکیلاتو د زیاتوالي مخنیوی، اسلام ته زیات پام او ځینې نور مسایل د دغو پرېکړو د توجیه کولو لپاره یادوي. د دې پرېکړو مخالفین بیا نور دلایل راوړي، د معینیت لغوه کول له اسلام سره ستونزه گڼي او ځیني یې بیا جوماتونو ته د ماشومانو لېږل د هغوی د افراطي کولو طرحه گڼي. په مخالفینو او موافقینو دواړو کې ځینې دلایل سیاسي دي او ځینې نور هم تخنیکي او معقول دلایل دي.

اصلي ستونزه دا نه ده چې په پوهنې وزارت کې له اسلام سره مینه یا دښمني ده او یا هم تخنیکي دلیل دی. په پوهنې وزارت کې د دغو بدلونونو او وروستیو پرېکړو تر شا اصلي دلیل اقتصادي دی. ټول بدلونونه او پرېکړې پر اقتصادي علت را څرخي او نور دلایل یوازې د توجیه لپاره راوړل کېږي. واقعیت دا دی چې له اوسني حکومت سره په شدت سره بهرنۍ مرستې کمېږي او دوی اړ دي چې خپل لگښتونه کم کړي. د افغانستان د حکومت د ملکي مامورینو تر ټولو لویه برخه په پوهنې وزارت کې ده او حکومت ته سخته ده چې نور د دغه وزارت لگښتونه پوره کړي. آن دا ستونزه په همدې روان کال کې هم وه. په همدې روان کال کې وزارت لنډمهالي ښوونکي استخدام نه کړل او په دې سره د لسگونو زره ښوونکو د کمښت ستونزه رامنځ ته شوه. همدا اوس د شته زده کوونکو لپاره پر برحاله ښوونکو سربېره لسگونو زرو نورو ښوونکو ته اړتیا ده چې حکومت یې په گومارنه کې پاتې راغلی دی. په همدې روان کال کې حکومت ونه شو کولی چې دا ښوونکي په رسمي یا قراردادي ډول استخدام کړي. له همدې امله ښوونځي له سختو ستونزو سره مخ وو. په پلازمېنه کابل ښار کې هم داسې ښوونځي وو چې دېرش درسي ټولگي، خو یوازې پنځلس ښوونکي یې لرل او په دې ډول سلگونو زرو زده کوونکو ښوونکي نه لرل.

په راتلونکي کال کې د زده کوونکو شمېر نور هم زیاتیږي، حکومت شته زده کوونکو ته ښوونکي نه لري او نوو ته خو یې پیدا کول نور هم ستونزمنېږي. له بل اړخه پوهنې وزارت په نورو برخو کې هم د بودیجې له کمښت سره مخ دی او آن تېر کال یې نوي کتابونه هم چاپ نه کړل. په همدې حال کې ټول دولت د بودیجې له کمښت سره مخ دی، نو څکه باید ځینې کارونه وکړي. دوی له همدې امله ځینې معینیتونه لغوه کړل، له لومړي تر درېیم ټولگي یې جوماتونو ته د زده کوونکو د لېږلو پرېکړه کړې او ډېرې نورې پرېکړې به هم وکړي.

د اشرف غني د حکومت ناکام سیاستونه او فساد د دې سبب شوي چې د بهرنیانو مرستې کمې شي او دولت له سختو ستونزو سره مخ شي. که حالت همداسې دوام وکړي، د بودیجې د نشتوالي له امله به د پوهنې تر څنگ زموږ د روغتیا او نور سکتورونه هم له سختو ستونزو او بحرانونو سره مخ شي. پر همدې بنسټ پکار ده چې پر پوهنې وزارت د نیوکو او نورو دلایلو پر ځای اصلي ستونزې ته پام وکړو، څو د دغو بحرانونو مخه ونیول شي.

# آموزش تفکر برای جامعه، راهی برای دستیابی به صلح پایدار در افغانستان

آصف ایوبی

تحقق صلح در جامعه افغانستان، بدون ترویج و نهادینه کردن آن ناممکن است. نهادینه کردن صلح آموزش مداوم و بی وقفه می طلبد. نزدیک به چهار دهه جنگ و خونریزی استقرار صلح را بدل به یک رویا کرده است، با وجود یک سلسله تلاش های نافرجام برای قطع جنگ، تحقق این رویا هنوز ابهامات و دشواری های فراوانی را با خود حمل می کند. جنگ افغانستان طولانی ترین جنگ قرن بیستم است که تبعات آن نه تنها در سطح منطقه، بلکه در سطح امنیت بین الملل نیز به سنجش گرفته شده است. در جغرافیای سیاسی معاصر؛ افغانستان یکی از معدود کشورهایی است که بخش مهمی از تاریخ آن با منازعات خونین داخلی گره خورده و در مقاطع مختلف تاریخی، جنگ به عنوان وسیله‌ی دست یافتن به قدرت و سرکوب مخالفین مورد استفاده قرار گرفته است. افسانه‌های تاریخی لشکرکشی های شاهان متقدم افغان به هند، مقابل شدن متناوب افغان‌ها در اواخر قرن ۱۸ میلادی با ارتش بریتانیای کبیر و یک قرن بعد نبرد با ارتش شوروی قدیم، جنگ را از چشم‌انداز باورهای دینی به عنوان هنجار و ابزاری مقدس مقابله با کفر و نشانه‌ی رستگاری و قهرمانی وارد فرهنگ و سنت‌های اجتماعی کرده، بازتولید این نگرش تلاش و تفکر معطوف به مهار خشونت و استقرار صلح و ثبات را با چالش‌های جدی مواجه کرده است.

در چنین وضعیتی این سوال مطرح است که آیا می شود به منازعه نزدیک به چهل ساله افغانستان نقطه پایان گذاشت و استقرار صلح را در این کشور امکان پذیر کرد؟ مطالعات متعددی که پیرامون منازعه و صلح صورت گرفته است، استقرار صلح را پس از هر منازعه ای مستلزم یک سلسله اقدامات و تلاش های سنجیده شده و چند بعدی می داند که موفقیت آن نخست با میزان اراده، انسجام سیاسی و خرد جمعی قربانیان منازعه قابل سنجش است. مطالعات صلح بر این واقعیت نیز تاکید می کند که برقراری صلح پروسه ای مبتنی بر فهم دقیق و نظری از ماهیت منازعه می باشد که بدون توجه به جنبه های نرم افزاری آن امکان پذیر نیست.

برای درک بهتر توسعه یک رویکرد استراتیژیک نسبت به آموزش را مورد بررسی قرار می دهم. در آغاز باید روشن ساخت که در هنگام سخن گفتن از آموزش چه زبانی چه تصویری را به کار می بریم. در زمینه حل منازعه ما بر واژه آموزش تاکید زیادی داریم و بدان وسیله به فعالیت هایی اشاره می کنیم که مردم راجع به شیوه های خاص واکنش به منازعه یاد می گیرند. انتقال دانش و اطلاعات که بدست آمده برای کسانی که در شرایط منازعه قرار دارند، مفید است. ما به آموزش به عنوان ابزاری برای طراحی و استقرار صلح مداخلات مسئولانه در منازعات طولانی مدت کمتر اندیشیده ایم و با نگاه به آموزش از این زاویه دید که باید یک چهارچوب ارجاعی ایجاد کنیم که بدان وسیله فعالیت های آموزش ضروری تلقی شود. در گام نخست برای رسیدن به این هدف باید زبان خود را بهبود بخشیم. من بر این باور هستم که آموزش را باید به عنوان یک پروسه برقراری ارتباطات و ظرفیت سازی در نظر گرفت. شرح سه اصطلاح که بیانگر همین رویکرد است، مفید خواهد بود.

اصطلاح ظرفیت سازی به این معنی است که ما به سمت گسترش چیزی در حرکت هستیم که قبلاً در دسترس بوده و وجود داشته است. این اصطلاح بر دانش و توانایی دوامدار مردم و در عین حال اعتراف به این که گسترش افق دید آموزش و رشد هم ممکن و هم ضروری هستند، تاکید دارد. در یک سطح عمیق تر ریشه های واژه ظرفیت افق فلسفی مهمی را فراروی ما می گشاید. این واژه از واژه های قابل به معنی قادر بودن و داشتن قدرت تاثیر گذار برچیزی مشتق شده است. اصطلاح ظرفیت که پشنهاد می شود در این جا از آن استفاده کنیم با مفهوم توانمندسازی و قدرت بخشیدن پیوند دارد. واژه ای که در بسیاری از مواقع درست استفاده نمی شود. توانمند سازی با چالش اساسی استقرار صلح مرتبط است. بنابراین، باید به این باور برسیم که چطور می توانیم افراد جامعه را از وضیعت روحی (من / ما نمی توانیم) به وضعیت روانی (من / ما می توانیم) برسانیم. از زاویه دید چارچوبی ظرفیت سازی اشاره به پروسه تقویت و شعله ور ساختن توانایی و درک مردم در رابطه با چالش منازعه در شرایط زندگی واقعی شان دارند و نیز مربوط به نوع فلسفه ای می شود که مردم را به اقدام جدید خلاق و با قدرت به منظور دست یابی به وضعیت مطلوب در همان شرایط بر می انگیزد.

اصطلاح روابط برقراری نشان می دهد که آموزش تنها به معنی افزایش ظرفیت و مهارت های افراد نیست، بلکه همچنین به مفهوم ایجاد و تقویت روابط بین بخش های مختلف یک منازعه طولانی مدت نیز می باشد. این امر دارای هدف دوگانه است. در آشکارترین سطح ظرفیت سازی در هنگامی است که دشمنان در کنار هم می نشینند تا باهم کارکرده و در یک پروسه طولانی مدت یاد بگیرند که چطور قالب های ذهنی منفی خود را رها کرده و درک شان را از یکدیگر به عنوان اشخاص انسانی بهبود بخشند. یا به عبارت دیگر، آگاهی و درک عقلانی از وابستگی متقابل به یکدیگر یک هدف عمده به شمار می رود. در سطح عمیق تر درک ایجاد روابط به عنوان یک جنبه اساس آمادگی بستگی به این خواهد داشت که بپذیریم بسیاری از مهارت های ظرفیت سازی و ابزار مورد استفاده در استقرار صلح و تغییر منازعه در صورتی که به صورت جمعی و گروهی اعمال گردند. تاثیر بیشتری خواهند داشت. ایجاد روابط یک امر طولانی مدت است و هماهنگی لازم برای حفظ صلح در شرایط معین ضروری می باشد.

منظور از اصطلاح استراتیژیک نگاهی فراتر از جنبه های فوری و محدود یک فعالیت خاص است. واژه استراتیژیک ما را بر آن می دارد که سوال کنیم، چطور یک فعالیت بر یک شرایط وسیع تر تاثیر می گذارد و آیا میکانیزم هایی برای حفظ تغییرات مورد نظر و مطلوب ایجاد شده اند یا خیر؟ آموزش حل منازعه اغلب بر آمادگی مردم به عنوان افراد تاکید داشته و توجه چندانی به ارتباط استراتیژیک این افراد با شرایط موجود یا مسایل طولانی مدت تر دوام و پایداری ندارد. به همین ترتیب آموزش معمولاً بر تغییرات محتوای خاص تاکید دارد. در یک رویکرد تحول طلبانه پیشنهاد می شود که آموزش کمتر بر تغییرات محتوای جزیی تاکید داشته باشد، بلکه بیشتر مربوط به یک پروسه ای باشد که در آن افراد کلیدی درگیر می شوند. این دو یعنی افراد و پروسه بر واقعیت های منازعه در شرایط عینی تمرکز دارند. ظرفیت سازی استراتیژیک و برقراری ارتباطات مستلزم تجدید نظر نسبت به چارچوب آموزش از محتوای جزیی پروسه و از تغییرات به تحول می باشد.

طبق چارچوب استقرار صلح مورد نظر این بدان معنی است که ما باید راه های عملی را برای بر قراری پیوند بین افراد و رهبران کلیدی در درون شرایط موجود بیابیم و فضایی را برای آنان فراهم سازیم که دیدگاه های مشترک یک آینده مطلوب را توسعه بخشند و به بحران های فوری و مکرر خلاقانه واکنش نشان دهند. آنان همچنین باید بتوانند پروسه پویایی را ایجاد و حفظ کنند که مردم را به پیمانه وسیع از بحران به سمت تغییر مطلوب سوق دهند. به عبارت دیگر، آموزش باید با بهبود وضعیت مردم و جوامع شان به گونه ای پیوند داشته باشد که ایجاد یک زیر ساخت استقرار صلح را در میان شان تسهیل و حفظ کند. این ظرفیت ها سه عنصر را به هم ربط داده و بین آن ها پیوند برقرار می کنند. این سه عنصر عبارت از: شرح یک آینده مطلوب، درک درستی از بحران و وضعیت اضطراری و ارایه یک رویکرد استراتیژیک. این کار حرکت از بحران را به سوی یک تغییر مطلوب فراهم می سازد. لیست مشروح این ظرفیت ها موارد زیر می باشد. که عبارت اند از:

ظرفیت سازی مناسب برای تغییر منازعه (طرح آموزشی): ظرفیت تشخیص نوع ابزار و مهارت های آموزشی مورد نیاز برای آماده کردن مردم است تا بتوانند وضعیت را مدیریت کرده و به شرایطی که در آن قرار دارند واکنش نشان دهند. این امر شامل تهیه طرحی می شود که با توجه به محتوا و ارایه آن شرایط محور بوده و به میزان زیادی خودگردانی مردم را تامین کند.

ارایه برنامه آموزشی: ظرفیت برگزاری ورکشاپ ها، ارایه ایده ها، جلب مشارکت مردم و جذب دانش محلی که در تطبیق طرح تهیه شده برای شرایط خاص مفید می باشند.

طرح سیستم اختلافات: ظرفیت پیش بینی توسعه و ظرفیت های انسانی و نهادی برای کار با منازعات دوام دار در یک جامعه به گونه ای که منازعات به تغییر سازنده و تعامل ختم شوند و نه به پیامدهای خشونت آمیز و ویرانگر. در طرح سیستم اختلافات منازعه یک تجربه طبیعی بشری در تمام جوامع در نظر گرفته می شود، اما تلاش می گردد که مکانیزم های اجتماعی برای تغییر منازعه توسعه یابد.

طرح تحولی رسانه ای: ظرفیت تشخیص رسانه ها و وسایل ارتباط جمعی که بر مخاطبان زیادی در جامعه از طریق ارایه اخبار دقیق و نیز ایجاد دیدگاهی در باره صلح از طریق قالب های خاص فرهنگی تاثیرگذار می باشند، به عنوان مثال می توان از (شعر، قلم، تیاتر و ... ).

طرح آینده اجتماعی استراتیژیک: ظرفیت مشارکت دادن افراد، گروها و جوامع با توزیع و تعقیب دیدگاه هایشان راجع به یک آینده صلح آمیز.

طرح انتقال استقرار صلح: ظرفیت اندیشیدن راجع به روابط چارچوب های زمانی و طراحی طرزالعمل های انتقالی که به مردم و برنامه ها کمک کنند، از بحران خارج شده و به سوی تغییر طولانی مدت حرکت کنند.

با دعوت از مردم برای بازگویی تجارب شان در شرایطی که در آن قرار دارند. هر یک از این ظرفیت ها قابل شرح و بسط با جزییات بیشتر می باشند.

آنچه را که بیان شد مجموعه از مفاهیم برای تطبیق چارچوب استقرار صلح در فعالیت های آموزشی پیشنهاد شد. و همچنان پیشنهاد گردید که یک چارچوب استقرار صلح باید پایگاهی را برای اقدامات مستقیم و عملی که بر سیستم منازعه و به طور کلی تاثیر گزار باشد، فراهم سازد. ما باید به آموزش به گونه ای بنگریم که سه موضوع را شامل باشد؛ به بحران های فوری و مکرر یک وضعیت واکنش نشان دهد، فضایی برای یک دیدگاه مشترک راجع به آینده ای مطلوب فراهم سازد و زیر ساختاری را توسعه دهد که تغییرات ضروری را تشویق و از آنها برای برون رفت از بحران حمایت کند. برای این که بتوانیم صلح پایدار و با ثبات در افغانستان داشته باشیم، باید ذهنیت جامعه را نسبت به صلح پذیری و آموزش های صلح از طریق های مختلف کوشا باشیم و در الویت برنامه های ما قرار داشته باشد.

# افغانستان مسلخ کشتار افغانها و یا میدان بزکشی برای دیگرا! مقصر کیست؟

عتیق الله رحیمی

افغانستان سرزمینکه تاریخش پر از تحولات و حوادث خورد و بزرگ داخلی و خارجی بوده و هر صفحه تاریخ آن گواه رویدادها، حوادث، جنگ ها و تحولات متعدد توام با شکست و پیروزی ها همرا بوده که بشکل از اشکال زندگی ساکنین این سرزمین را در طول تاریخ چندین هزار ساله آن دچار تحولات و تغییرات بنیادی مثبت و منفی نموده است. امپراتوریهای مختلف جهان امدند و رفتند، شاهان بر تخت پادشاهی نشستند و رخت سفر بستند، حکومت ها با نام ها، نشانها، شعارها، برنامه ها و عملکردهای مختلف روی کار امدند و بعد از طی نمودن سیر صعودی خویش نزول نمودند و از میان رفتند؛ اما مردم این سرزمین اکثراً به امید خوشبختی و سعادت شاهد ناامیدیها و بدبختی های گوناگون بودند و به آرزوی صلح و وحدت و ترقی جز جنگ و بی اتفاقی متاسفانه نصیبی دیگری نداشتند. گذشته از تاریخ پسین، چند دهه اخیر از سیاه ترین دوره های افغانستان بوده که جز تباهی و بربادی نتیجه دیگری به مردم به ارمغان نیاورد. مسایل افغانستان در چهار دهه اخیر زوایای مختلفی پیدا و ریشه های عمیق داخلی و خارجی دوانید که حل و فصل این مسایل به زمان و تدابیر بنیادین در بخش های مختلف از جامعه را ضرورت دارد. مشکلات داخلی همچون نبود امنیت جانی، مالی، روحی و روانی مردم، فقر و بیچارگی در سطوح های مختلف کشور، رکود اقتصادی، نبود نظام مقتدر و حکومتداری سالم، عدم دسترسی مردم مخصوصاً نوجوانان و جوانان به تحصیل و کسب علم و دانش در نقاط مختلف کشور، فقدان اگاهی از دین و مذهب، حاکمیت قوی ملیشه ها، گروهای به اصطلاح مذهبی، جنگ سالارها و قوماندانهای دوران جنگی در نقاط و اکناف مختلف افغانستان همرا با شعله ور ساختن مسایل همچون زبانی، سمتی، حزبی و قومی از سلسله مشکلات عمده داخلی بوده که بازیگرهای خارجی و منطقوی هم با استفاده از این مشکلات داخلی تا توانستد سود بردند و اهداف ستراتیژیک خویش را الی اکنون تطبیق و با بربادی مان خود را اباد ساختند و میسازند. نظر عام مردم، کارشناسان، سیاسیون و حکومتداران بر این است که تا وقتی مشکلات بعد خارجی افغانستان حل نگردد رسیدگی به ابعاد داخلی مشکتر خواهد بود؛ اما حقیقت امر اینست که تا وقتی شما خود را اصلاح نسازید، نمیتوانید دیگران را اصلاح و یا دست مداخله ایشان را قطع نمایید. این یک امر مسلم است که هر کشوری برای دنبال نمودن مسایل ستراتیژیک و سیاست خارجی خویش کشورها و منطقه های ضعیف همچون افغانستان را میدان رقابت های نیابتی خویش ساخته و از انها در راستای رشد خودی و قوی ساختن موقف سیاست خارجی خویش استفاده مینماید، حال این چه کشورهای منطقه باشد و یا هر کشور دیگری این سناریوها بنام ها و رنگ های مختلفی ادامه خواهد داشت و هر روز شاهد ویرانی و تباهی خویشتن خواهیم بود. پس قبل از دراز نمودن انگشت انتقاد بالای دیگران بیایید هر یکی مان به نوبه خویش سر خویش را در گریبان نموده مشکلات اساسی و بنیادی که باعث این همه فلاکت و بدبختی شده، را متوجه و در رفع ان بکوشیم. به یاد داشته باشید که هزینه غیر مستقیم این همه جنگ و ویرانی افغانستان به مراتب از هزینه مستقیمش بزرگتر بوده و از بین رفتن روزانه صدها تن افغان به معنای یتیم شدن صدها تن از اطفال، بیوه شدن صدها تن از خواهران و مادران افغان، بی سرپرست ماندن صدها خانواده، به عقب افتادن کشور از قافله پیشرفت و ترقی و صدها مشکلات دیگر میگردد. پس بیایید اولتر از همه بجای انتقاد از دیگران در ساختن خود کوشا شویم، در تحصیل و کسب علم و دانش فرزندان خویش با وصف مشکلات که در پیشروی مان قرار دارد، سخت بکوشیم، از اشخاص و گروهای تبهکار و مفسد دفاع و پیروی ننمایم، در اصلاح جامعه از فامیل های خود شروع نمایم، بجای کشت تخم تفکر اختلاف و بی اتفاقی تخم اتفاق و اتحاد را بذر افشانی نمایم و همه اقوام با یک صدا و یک دل به همه رزایل موجوده نه گفته و درجانب خلاف هر حکومت، گروه، شخص و یا جناع مفسد و خلافکار ایستاده و نگذارید که تعدادی از اشخاص و افرادی بی نام و نشان که هیچ نوع پایبندی و تعهدی در قبال منافع کشور ندارند، در چوکات های مختلفی حکومتی و یا خلاف حکومتی خود را فربه ساخته و این کشور را از حالت فعلی هم بدتر و بدتر سازند. بیاد داشته باشید که هیچ کشور خارجی نمیتواند کشور تان را اباد سازد و همه مشکلات تان را رفع نمایید. بیاد داشته باشید که خداوند متعال ان مردم و قومی را سروری میدهد که انها خود در تغییر خود بکوشند و حالت خویش را با امکانات موجوده خویش تغییر دهد و به ان مردم و ملتی کاری ندارد که خود تیشه بر ریشه خود زده و در نابودی یکدیگر رقابت مینمایند. لطفاً از هر کس و ناکسی، از هر قلدر و بدماشی، از هر مفسد و رشوت خوری، از هر جنگسالاری و قوماندانی، از هر تکنوکرات و خلقی و پرچمی و جهادی توقع خدمت و ابادی وطن نداشته باشید چون همه انها به نوبه خویش امتحانات خویش را در رقابت های ویرانی و تباهی افغانستان داده اند و متاسفانه که نمرات خیلی عالی را هم در این رقابت ها از خود ساخته اند. این همه محکوم نمودن ها و تقبیح نمودنها، پست های احساساتی فیسبوکی، ایجاد کمیسیون های بررسی، تغییر و تبدیلی مفسدین از یکجا به جایی دیگری، سر دادن شعار میان تهی و پوچ، سخنرانی ها عوام فریبانه هیچ مفادی نداشته و جز سرگرمی رسانه ها و مردم سودی در پی نداشته و نخواهد داشت. حال وقتش رسیده تا از هر زمانی دیگر در اتحاد و اتفاق این ملت پارچه پارچه بکوشیم و در پهلوی اصلاحات خودی از مسؤلین که خود را زمامداران دفاع و خدمت میدانند، نیز پرسان نموده و انها را وادار به تمکین خواست های بر حق مردم خویش نمایم و دیگر نگذاریم که اینها تحت شعارهای خدمت و دفاع و انهایی دیگر زیر نام اسلام و دین هر روز مردم مانرا سلاخی نموده و این سرزمین را به مسلخ کشتار افغانهای و میدان رقابت های جنگ های نیابتی سازند.

# حکومت د امریکا او طالبانو پر وړاندې؛

## ارگ: د نورو بندیانو خوشي کول په بین الافغاني مذاکراتو کې له پرمختگونو سره تړلي



سره له دې چې په دوحه کې په بین الافغاني خبرو کې له پرمختگونو خبر ورکول کېږي، خو تازه د امریکا، طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د بندیانو د مسئلې پر سر ناندرۍ را ولاړې شوې دي.

په کابل کې د امریکا سفارت وايي، طالبان په راتلونکو څو ورځو کې د خپلو اووه زرو بندیانو د خوشي کولو غوښتنه کوي او دغه بندیان باید ازاد شي. افغان حکومت بیا وايي، دوی د طالبانو بندیان خوشي کړي او د پاتې نورو بندیانو د خوشي کولو لپاره دې د دوحې په مذاکراتو کې پرمختگونو ته په تمه شي.

د بین الافغاني خبرو تر پیل مخکې د طالبانو یو شرط دا و چې باید پنځه زره بندیان یې خوشي شي، له گڼو خنډونو او ناندریو سره سره، دغه بندیان خوشي شول، خو اوس تازه په کابل کې د امریکا سفیر وايي چې د دوحې په هوکړه کې د طالبانو د نورو بندیانو د خوشي کېدو خبره هم شته ده. هغه له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، د دې اړتیا ده چې د سولې هوکړه عملي شي او د طالبانو اووه زره بندیان خوشي کړل شي.

شارژدافیر راس ویلسن وايي، ښایي طالبانو تر راتلونکو لسو ورځو پورې د خپلو شاوخوا اووه زره بندیانو د خوشي کولو غوښتنه وکړي او یا دا وغواړي چې برخلیک یې معلوم شي. هغه وايي: ((د شاوخوا اووه زره نورو طالب بندیانو د خوشي کولو په اړه یوه ځانگړې او واضح برخه د طالبانو او امریکا په هوکړه کې راغلې ده. تر کومه ځایه چې په موږ پورې اړه لري باید عملي کړل شي، د طالبانو او امریکا د هوکړې ټول موارد له یو بل سره تړلي دي)).

د امریکا د سفارت شارژدافیر وايي چې د هوکړې له مخې، باید د رواني میاشتې تر نیمایي پورې د طالبانو شاوخوا اووه زره بندیان خوشي کړل شي. د ده په خبره: ((زما یې دقیقه نېټه نه ده په یاد، خو که محاسبه شي، د رواني میاشتې تر نیمایي ښایي طالبان د دغو بندیانو د خوشي کولو غوښتونکي شي. د هوکړې ټولې برخې له یو بل سره اړیکه لري، موږ داسې نه شو کولی چې یوه برخه عملي کړو او له بلې تېر شو)).

د ویلسن تر څرگندونو مخکې طالبانو د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سره کتلي وو. د طالبانو سیاسي مرستیال ملا برادر او د دوی د مذاکراتي پلاوي مشر مولوي عبدالحکیم له امریکایي لوري غوښتي چې د دوی پاتې بندیان دې خوشي شي او همدا راز دې د طالب مشرانو نومونه له تور لېست و ایستل شي. د طالبانو د قطر دفتر ویاند ډاکټر محمد نعیم وايي: ((له زلمي خلیلزاد سره د سولې پر روانو پرمختگونو، د بندیانو پر خوشي کولو او همدا راز له تور لېست د طالب بندیانو د خوشي کولو پر مسئله خبرې شوې دي)).

بلخوا افغان حکومت بیا د طالبانو او امریکا پر دې څرگندونو غبرگون ښودلی دی. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي پرون له رسنیو سره په خبرو کې وویل چې د طالبانو تازه غوښتنه لا تر وخت مخکې ده او په خبره یې، د زندانیانو خوشي کول او دې ته ورته نور هغه مسایل دي چې په بین الافغاني مذاکراتو کې به بحثونه وربانديې کېږي. هغه زیاته کړې چې افغان حکومت د طالبانو شاوخوا پنځه زره بندیان وار له مخه خوشي کړي او د پاتې نورو بندیانو د خوشي کولو په اړه خبرې لا تر وخت مخکې دي.

د زندانیانو پر خوشي کولو د درې واړو لورو ترمنځ داسې مهال ناندرۍ رامنځته کېږي، چې تر دې دمه د سولې په برخه کې پرمختگونه محسوس نه دي او په افغانستان کې د جگړو د کمېدو سبب نه دي شوي. په کابل او ځینو نورو لویو ښارونو کې امنیتي پېښې د اندېښنې وړ دي او په ولسوالیو کې هم د طالبانو تهاجمي بریدونه تر دې دمه روان دي. نړیواله ټولنه بیا ټینگار کوي چې دواړه لوري دې ژر تر ژره په خپلو کې یوه دایمي اوربند او تلپاتې سولې ته سره ورسېږي.

# سوله ساتونکې که وسله پلورونکې؛

## ستوکهولم: امریکا په ۲۰۱۹ کال کې د نړۍ په کچه تر ټولو ډېرې وسلې پلورلي

د تازه څېړنو له مخې، د امریکا متحده ایالتونو په ۲۰۱۹ ز کال کې د نړۍ په کچه تر ټولو ډېرې وسلې پلورلي دي.

د نړیوالې سولې په اړه د ستوکهولم د څېړنو موسسې ویلي، چې امریکایي شرکتونو په ۲۰۱۹ ز کال کې د وسلو په بازار باندې واک چلاوه. د یادې موسسې د راپور له مخې، امریکایي او چینایي شرکتونو تېر کال د نړۍ د وسلو په پلور کې ۷۵ سلنه لاس درلود.

د ستوکهولم د څېړنو موسسې د تازه راپور له مخې، په نړۍ کې د ۲۰۱۹ ز کال پر مهال د ۲۵ فعالو تسلیحاتي شرکتونو له ډلې ۱۲ یې امریکایي وو چې ټولټال یې ۶۱ سلنه بازار په واک کې درلود، خو چینایي شرکتونو بیا یوازې ۱۵ اعشاریه اوه سلنه ونډه درلوده.

دغو ۲۵ لویو شرکتونو اته نیم سلنه پرمختگ کړی چې ټولټال خرڅلاو یې ۳۶۱ میلیارد ډالرو ته رسېږي. د وسلو د پلور د ټولو لوی پنځه شرکتونه لاکهیډ مارټین، بویینگ، نورثروپ گرومان، ریتیون او جنرال داینامیکز ټول امریکایي دي.

د ستوکهولم د سولې د نړیوالې څېړندویې موسسې راپور وايي، چې څلور لوی چینایي شرکتونه د لومړي ځل لپاره د وسلو ۲۵ لویو شرکتونو په ډله کې راغلي دي. دا په داسې حال کې ده چې پخوا د دغو چینایي شرکتونو په اړه معلومات نه ورکول کېدل.

دغه راز په یاد راپور کې دوه روسي شرکتونه الماز انتي او یونایټېډ شپب بېلډینگ هم په ۱۵مه او ۲۵مه درجه کې ځای لري.

ستوکهولم موسسه وايي، دغو شرکتونو په ۲۰۱۹ ز کال کې لړ عواید درلودل او ټولټال څلور سلنه نړیوال تسلیحاتي بازار یې په واک کې درلود. د وسلو د پلور یو بل روسی شرکت یونایټېډ ایرکرفټ د ۲۵ لویو شرکتونو له ډلې لوېدلی؛ ځکه چې په عوایدو کې یې یو میلیارد او درې سوه میلیونه ډالره کموالی راغلی دی. دغه راز په یاد راپور کې د چین اویک AVIC، سي‌ای‌ټي‌سي او نورینکو په ترتیب سره شپږم، اووم او نهم ځایونه لري. بلخوا د برېټانیا د وسلو د پلور شرکت بي ای اې په اووم ځای کې دی.

د ستوکهولم د موسسې د راپور له مخې، امریکا لسیزې کېږي، چې د نړۍ د وسلو د پلور په بازار واک چلوي، خو چینایي شرکتونه لومړی ځل په ۲۰۱۹ز کال کې وتوانېدل چې د وسلو د پلور ونډه پنځه سلنه زیاته کړي. د وسلو د پلور په دغو لویو شرکتونو کې لومړی ځل د متحده عربي اماراتو یو شرکت هم ځای شوی دی.


د یادونې ده چې د نړیوالې سولې په اړه د ستوکهولم د څېړنو موسسه په ۱۹۶۶ ز کال کې د سویډن د پارلمان په مصوبې سره رامنځته شوه او له هغه وخت راهیسې په نړۍ کې د وسلو د پلور او پېر او پوځي لگښتونو په اړه څېړنې کوي.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېیمه برخه
**کشمیر**




همدا لامل دی چې موږ په هغه ځای کې وو چې نن یو. په ډیلي کې دریځ داسې دی چې له حریت سره خبرو ته اړتیا نه شته او حتی له فاروق عبدالله سره خبرو ته اړتیا نه شته، په داسې حال کې چې د کشمیر، ډیلي او نړۍ په اړه تر فاروق عبدالله بل څوک ډېر نه پوهېږي. هغه له خپلې کورنۍ سره د رخصتۍ ورځې په سوېلي افریقا، دوبۍ او نورو ځایونو کې تېروي. دا لوبه د دواړو لوریو لپاره گټه نه لري.

دورانی: روان وضعیت په دې مانا نه دی چې نه لیدنې وي، نه خوځښتونه او نه تگ راتگ. په حقیقت کې دا ټول ممکن دي، خو دا چې په سیاسي نظم کې بدلون رامنځته نه شي. په نظم کې باید هېڅ راز بدلون رامنځته نه شي څکه چې بیا نورو بدلونونو ته لار هواروي. لکه داسې نه چې یاد بس حرکت پیل کړي، خو یو شی به یې حتماً د درېدو لامل کېږي. تر یوه بریده کله چې مشرف د څلورو ټکو د فورمولې یادونه وکړه او خبرې یې قانع کوونکې وې او تر یوه حده یې د مقابل لوري له دریځ سره اړخ لگاوه، د هند له لوري لېوالتیا نه لیدل کېږي. څکه خو نن ممکن ووایو چې د کنټرول کرښه د سوداگرۍ لپاره جوړه نه ده او بیا به سبا د اروپایي اتحادیې په څېر د یوه جوړښت غوښتنه کوو. ما هغه وخت وویل چې ستراتېژیک بن بنست د هند موخه ده. زه له دې سره موافق وم، څکه چې له پاکستان سره د اړیکو سمول که تر کشمیره پورې محدودې نه شي، حتی د سولې په مانا کېدای شي، دا همدارنگه په مختلفو تگلارو کې د نرمښت په مانا ده څکه چې د «راکړه او واخله» خبره ده. څکه خو وایي چې: د سولې بیه په خپل وخت کې د جگړې تر بیې لوړه ده. جگړه د مدیریت وړ ده، کېدای شي کله کله د پولې په اوږدو کې نښتې وي او خلکو ته مرگ ژوبله واوړي، خو د سولې بیه ښایي د کشمیر د پخواني وېش د منلو، د اندوس سیند د اوبو د پخواني تړون د بدلون او نورو پېښو لامل شي. دا کېدای شي نور ډینامیکونه وزېږوي.

دولت: زه دا منم چې حتی ساده مسایل هم حل نه شول. د څلورو ټکو فورمول (Four point formula) د پاکستان له لوري وړاندې شو او د کشمیریانو له لوري ومنل شو. موږ ډېر اعتراض نه درلود، څکه چې تر ډېره عملي برېښېده. په دې توگه کله چې د «بک چاینل» ډیپلوماسي وکارول شوه، خبرو ته یې دوام ورکړ. اړتیا وه چې موږ ټول پر څلورو یا شپږو ټکو چې مشرف پر مېز اېښې وه، راټول شوي وای او هغه ټکي مو ترې حذف کړي وای چې نه مو خوښېدل. خو موږ دا کار ونه کړ. همدارنگه کله چې ډاکټر منموهن سېنگ له دندې استعفا کوله، ویې ویل چې هوکړه کابو شوې ده. خو نه وه شوې. د هند او پاکستان څه ډول اړیکې. د ۰۷-۲۰۰۶ د سولې د خبرو کړکېچ د مشرف تر تگ مخکې وتړل شوه او کله چې نوموړی نادرکه شو، موږ وویل که یوازې نوموړی په صحنه کې وای، نو ډېر څه به شوي وای. ورته کس چې موږ د کارگېل په اړه ترې سر ټکاوه. مشرف باید ویلي وای چې راځئ کارگېل هېر کړو او وړاندې لاړ شو، ما یوه تېروتنه وکړه. مشرف بار بار ویلي وو، هر هغه څه چې کشمیر او کشمیریانو ته د منلو وړ وي، پاکستان ته هم د منلو دي. د نوموړي د څلورو ټکو فورمول یا طرحه له همدې څرگندونو سره همغاړې وه.

سېنها: ایا له نن څخه شل کاله وروسته به هم په ورته وضعیت کې وو؟

دورانی: زه نه پوهېږم چې کومه اصطلاح ورته وکاروو، خو معمولاً کله چې منفي وبرېښي، نو روان وضعیت دی او تر اټومي ازمایښت وروسته وضعیت ته ستراتېژیک ثبات ویلی شو. موږ په خپلمنځي ناستو کې هم په دې اړه بحث کړی، زموږ د دفاع وزیر خو حتی زما نظر په یوه ژورنال کې خپور کړی و. د موضوع محوري ټکی دا و چې ستراتېژیک ثبات په ټولو سطحو کې موجود و. ستراتېژیک ثبات ساکن نه، بلکې خوځنده یا ډینامیک حالت دی. کله چې دغه وضعیت د هند له لوري د یوې پرمختللې ټکنالوژۍ لکه د بالسټیک توغندیو دفاعي سیستم په رامنځته کولو سره مختل شي، نو پاکستان به هڅه کوي چې وضعیت بېرته د یوه کار لکه د تکتیکي اټومي وسلو له لارې ترمیم کړي. دا د روان وضعیت په بېرته ترمیم کې مرسته کوي. په راتلونکو شلو کلونو کې ډېر فرصتونه شته چې موږ به د ثبات مختلفې بڼې ولرو. په راتلونکو شلو کلونو کې به ډېر پرمختگونه وي چې موږ پرې نه پوهېږو او حتی کېدای شي چې له یادو پرمختگونو څخه زیات شمېر یې په راتلونکي کال کې پېښ شي. خو «نوی نورمال» وضعیت به د اتیایمې او نویمې لسیزې د روان وضعیت په څېر نه وي. له بل لوري که چېرته شا ته وگورو نو په تېرو شلو کلونو کې موږ ورته ستونزې لرلې: کشمیر، د هند-پاکستان تر منځ اصطکاکونه او افغانستان. کیسه ډېره یا لږه سره ورته ده، خو فشار دوام لري.

سېنها: په راتلونکو شلو کلونو کې به مسایل ډېر لږ بدلون ومومي، خو اساسي موضوعات به هماغسې په خپل ځای پاتې وي.

دورانی: روان وضعیت د یوه ځانگړي حالت د دوام په مانا دی. څومره چې موږ بدلېږو، هغومره سره ورته پاتې کېږو.

**دوام لري...**

# ټوماس ټرانسټرومر

شفیق امیرزی



ټوماس ټرانسټرومر سویډنی لیکوال او شاعر دی چې شعرونه یې د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي. هغه په اروپا او ځینو نورو غربي هېوادونو کې پېژندل شوی نوم و چې شاعري او لیکوالي یې تل د خلکو له هرکلي سره مخ شوې وه. هغه د ښې شاعرۍ او انساني افکارو د لېږد له امله د نوبل جایزې گټونکی شو. ویل کېږي چې د هغه اثار د نړۍ په شپېتو ژبو ژباړل شوي دي. ډېر اثار یې لیکلي دي او په خپلو اثارو کې یې تر ډېره د انساني پرمختگ او پیاوړتیا لپاره افکار وړاندې کړي دي. هغه په شاعرۍ کې خپل ځانگړی سبک لري، د کلماتو او ان آهنگونو په تنظیم کې خورا ماهر دی او له دقت کار اخلي.

ټوماس ټرانسټرو د ۱۹۳۱ کال د اپرېل په ۱۵مه د سویډن پلازمینې ستاکهلم ته نږدې په وستروس نومي ښار کې زېږېدلی دی. پلار یې هغه مهال د همدې ښار د ورځپاڼې مسوول مدیر و. دی په همدې ښار کې ښوونځي ته لاړ، د لاتین ژبې د زده کړې او گرامر ښوونځی یې لوست، د ښوونځي تر بشپړولو وروسته یې پوهنتون ته داخله وکړه او په ۱۹۵۰ کال کې یې په ستاکهلم پوهنتون کې د دین پوهنې، ادبیاتو، فلسفې او ارواپوهنې پوهنځی پیل کړ. په ۱۹۵٦ کال کې یې د ارواپوهنې په برخه کې خپل سند واخیست او یو کال وروسته د ستاکهلم پوهنتون د روانپېژندنې په برخه کې په دنده وگومارل شو. همدلته چې په کار وگومارل شو، نو له مونیکا بلاد سره یې واده وکړ. ترانسترومر د ۱۹٦۰ او ۱۹٦٦ یمو کلونو تر منځ د ځوانانو د روزنې او پیاوړتیا په یوه مرکز کې د ارواپوه په توگه وگومارل شو. هغه په ۱۹۹۰ کال کې له مغزي سکتې سره مخ شو او تر ډېره یې د تکلم یا خبرې کولو قوه کمزورې شوه. هغه اوس د خپلو خبرو د شریکولو او خپل زړه د سپکولو لپاره یوازې یوه لاره لرله او هغه هم لیکل وو. ټوماس په داسې یوه کورنۍ کې زېږېدلی او لوی شوی و چې له لیکوالۍ او لیکلو سره یې مینه لرله. پلار یې تکړه لیکوال او د یوې ورځپاڼې مسوول مدیر و، نو دې هر څه د هغه پر ژوند هم تاثیر درلود. هغه خپل لومړنی شعر په ۱۴ کلنۍ کې لیکلی و.

په اوولس کلنۍ کې یې لومړنۍ شعري ټولگه چاپ کړه. د دې ټولگې نوم یې و اوولس شعرونه. هغه یې لومړنی کتاب و، د ده لومړنۍ چاپ شوې شعري ټولگه وه، خو لکه ده چې تمه لرله دومره د خلکو له هرکلي سره مخ نه شوه. خو اوس اوس پوهان او نقادان وایي چې د هغه په شاعرۍ او لومړنۍ چاپ شوې ټولگه کې ډېر ظرافت او هنر کارېدلی دی. د دوی په خبره، د ټوماس غوره اثر یې هم همدا لومړنی اثر دی او خوندور اشعار یې پکې راټول کړي دي.

لیکوالان په دې باور دي چې هغه د مډرنې شاعرۍ یا له قافیې څخه د خلاصې شاعرۍ په رامنځ ته کولو او پراخولو کې لوی لاس درلود. هغه په تېره بیا په سویډن کې د هغو شاعرانو له ډلې دی چې له قافیې پرته شاعري یې وکړه. تر ده وړاندې په سویډن کې په شاعرۍ کې قافیې ته ځانگړې ارزښت ورکول کېده، خو دی په دې بریالی شو چې دغه دود مات کړي او له قافیې خلاصه شاعري د ازاد نظم په چوکاټ کې وکړي. هغه ان وزن هم له شاعرۍ لرې کړ، تغزل یې هم هېر کړ او یوازې د شعر آهنگ ته متوجه و. د هغه شاعري فلسفي شاعري ده. دی د څیزونو او توکو له نړۍ روایتونه را اخلي او په شاعرۍ کې یې کاروي. لیکوال او نقاد روز شیدلر یې په اړه وایي چې هغه تل له کایناتو او توکو سره مصروف دی. د ده په خبره، هغه تل له ساده شیانو خبرې پیلوي او همداسې یې پسې غوړوي. هغه وایي: «دی له ډېرو ساده تصویرونو پیلول کوي. بیا یې همداسې پسې غوړوي او ان میتافیزیک ته رسېږي. هغه له توکو خبرې پیلوي او د توکو په اړه خبرې کوي. دی له طبیعت سره مینه لري او طبیعت په خپله شاعرۍ کې داخلوي.»

هغه همدا راز وایي چې ټوماس یو پیاوړی کس و، چې له ناروغۍ سره سره یې ښه شاعري او لیکوالي کوله. د ده په خبره، دا حیرانوونکې ده چې د داسې یوه شاعر شعرونه او شعري ټولگې دې ان د نړۍ شپېتو ژبو ته وژباړل شي. هغه وایي: «یو پیاوړی کس و، د یوې عصبي ستونزې له امله یې خبرې نه شوی کولی. هغه خپل وخت په پیانو غږولو او لیکلو تېراوه. ده په یوه لاس پیانو غږوله، څکه د بدن یوه برخه یې د عصبي سکتې له امله فلج شوې وه».

د ترانسترومر په شاعرۍ کې تاسې ډېر کم اشخاص او افراد لیدلی شئ چې د کرکټر په بڼه راڅرگند شي. تر ډېره یې په شاعرۍ کې کرکټرونه توکي او اشیا دي. هغه د سیورې، کایناتو او شاوخوا توکو په اړه خبرې کوي. د سویډن، اروپایي هېوادونو په تېره د جرمني ځینې اسطورې یې په واضح توگه په شاعرۍ کې لیدلی شو. له شاعرۍ یې ښکاري چې دی د معمارۍ، نقاشۍ او ان موسیقۍ په برخه کې پوره او ښه معلومات لري او په شاعرۍ کې یې کاروي. له دې هر څه ویلی شو چې هغه په شاعرۍ کې یو نوی سبک رامنځ ته کړی دی، داسې سبک چې پر توکو او فلسفي مسایلو راڅرخي. هغه هېڅ وخت د دې ادعا نه ده کړې چې د کوم نوي سبک بنسټگر دی، خو پوهان په دې باور دي چې هغه په رښتینې مانا یو نوی او په زړه پورې سبک رامنځ ته کړی چې ساده‌گي او زړه راښکون یې مهمې ځانگړنې دي.

ټوماس تر مغزي سکتې وروسته له فلج سره مخ شو، خبرې یې نه شوی کولی، خو دې هر څه هغه و نه دراوه او شاعرۍ ته یې ادامه ورکړه. نوموړي د خپلې شاعرۍ او لیکوالۍ په برخه کې ډېرې جایزې گټلې دي چې تر ټولو مهمه یې د نوبل جایزه وه. دی اتیا کلن و چې د نوبل جایزه یې په ۲۰۱۱ کال کې وگټله. د سویډن سلطنتي اکاډمۍ اعلان وکړ چې د نوبل د ۲۰۱۱ کال جایزه یې ټوماس ترانسترومر ته ورکړې ده، څکه هغه په ساده او روښانه انځورونو سره خپلو لوستونکو ته د واقعیت د کتلو نوی امکان په لاس ورکوي. له دې سره جوخت په نړۍ کې په دې اړه ډول ډول غبرگونونه وپارېدل. چا فکر نه کاوه چې سویډن دې په خپل هېواد کې خپل لیکوال ته دا جایزه ورکړي او هېچا دا فکر نه کاوه چې نوبل بنسټ به خپله جایزه دې اتیا کلن او نیمه فلج شاعر ته ورکړي، خو نوبل بنسټ دا پرېکړه وکړه او جایزه یې ټوماس ته ورکړه. ټوماس داسې مهال د نوبل گټونکی شو، چې نور بیخي له پښو لوېدلی و. خبرې یې نه شوی کولی او مېرمنې یې له رسنیو سره په خبرو کې وویل، خاوند یې نوره دا هیله نه لرله چې د خپل ژوند پر مهال دې د نوبل جایزه وگټي. نوبل گټونکي لیکوال په ۱۹۵٦ کال کې له ستاکهلم وستراس ته کډه وکړه. په دې ښار کې یې لیکنې او شعرونه دومره مشهور شول چې په همدې ښار کې یې په نامه یوه ادبي جایزه رامنځ ته کړل شوه. دا جایزه د ترانسترومر ادبي جایزه نومېده. لومړنی کتاب یې په ۲۳ کلنۍ کې د اوولس شعرونو په نامه چاپ کړی و. په ۱۹۵۸ او ۱۹٦٦ یمو کلونو کې یې دوه نور کتابونه هم چاپ کړل. په دې کتابونو کې یې اسپانیا، بالکان، افریقا او امریکا ته د خپلو سفرونو د تجربو په اړه خبرې کړې وې. په ۱۹۹٦ کال کې یې د گوندولا د جنازې مراسم کتاب هم خپور کړ.

د ترانسترومر د شعر مهمه ځانگړنه د هغه لنډوالی دی. د هغه شعر ساده دی، ډېری نقادان په دې باور دي چې د ترانسترومر شاعري د انسان ذهن ته د جاپانۍ هایکو سبک تداعي کوي. هایکو د شعر یوه بڼه ده چې درې مسرې لري او د نړۍ په کچه په جاپاني هایکو شعر مشهور فورم دی. د ټوماس شاعري هم همداسې یو سبک لري چې په ساده والي او لنډوالي کې مهم هدف درته وړاندې کوي. د ده په شاعرۍ کې نه یوازې کلمات؛ بلکې ان سیلابونه هم په پوره مهارت او دقت ځای پر ځای کېږي. د محتوا له اړخه هم د ټرومر شاعري د پام وړ ده. شاعري یې فلسفي رنگ لري، د طبیعت او فلسفي تجرید په اړه ښه نظر لري. په ورځني ژوند کې انساني چلندونه یې هم د شعر په محتوا کې دي. چلند، بدلون او د ښو انساني عادتونو خپلول یې هم په شاعرۍ کې ځای لري. تر ډېره یې په شاعرۍ کې د خپل ژوند تجربې، شاوخوا نړۍ، مسایل او مهمو پوښتنو ته ځوابونه را اخیستي دي، دا ځوابونه هم تر ډېره فلسفي او شاعرانه دي.

د برېټانیکا دایره المعارف د ترانسترومر د اثارو په اړه لیکي چې د ده شاعري په شلمه پېړۍ کې تر بل هر شاعر ډېره ترجمه شوې ده. یاده منبع د خپلو خبرو په دوام لیکي: «هغه یوه پیاوړې ژبه کاروي، انځور یې پیاوړی دی، د ترانسترومر شاعري او پیاوړی انځور د دې سبب شوی چې په شلمه پېړۍ کې یې اثار تر بل هر شاعر ډېرو ژبو ته وژباړل شي.»

ترانسترومر ارواپوهنه لوستې وه. په فلسفه کې یې هم مطالعه لرله. همدې مطالعې او زده کړې یې پر شاعرۍ پراخ اغېز درلود. هغه نږدې دیارلس شعري ټولگې چاپ کړې دي، حجم یې کم دی، خو د محتوا له اړخه غني دي. هغه په شاعرۍ کې پر کمیت او یا په لیکوالۍ کې کمیت ته ارزښت نه ورکوي، بلکې کیفیت ورته مهم دی. په دې مانا چې تر ډېرو کتابونو چاپولو د کمو خو له مانا ډکو اثارو چاپول مهم دي. هغه خپله لومړنۍ شعري ټولگه په ۲۳ کلنۍ کې چاپ کړه چې خلک یې حیران کړل، دومره مشهور نه شو، خو وروسته وروسته یې له شهرت سره د لومړنۍ شعري ټولگې ارزښت هم خورا ډېر شو. دا یې لومړنۍ تجربه وه، خو بریالۍ تجربه یې هم وه.

د هغه د شعر د سبک په اړه ویلی شو چې ساده‌گي او لنډوالی یې د شعر اصل دی. په بله مانا داسې شاعري یې ده چې سختې کلمې او پېچلې جملې پکې نشته. مجبوره نه یو چې د شعر د لوستلو لپاره یې ځینې کلمات د قاموس په مرسته مانا کړو. ساده او عامیانه الفاظ کاروي. د هغه شعر یوازې یوه باریکي لري چې لوستونکی یې په پوهېدو کې له ستونزو سره مخ کېږي. هغه همدا چې د سویډن ځینې ځانگړې اصطلاحات، دودونه او د اروپا ځینو مشهورو اسطورو ته اشاره کوي. څوک چې له دې اسطورو، شعرونو، متلونو، دودونو، فرهنگ او کړو وړو سره نابلده وي، ارو مرو به د ده په شاعرۍ کې هم له ځینو ستونزو سره مخ شي.

د نوبل بنسټ هم هغه مهال ویلي وو چې د ترانسترومر شاعري ځانگړې ساده‌گي او رواني لري. هغه ساده ژبه کاروله ده، پېچلې لغتونه نه کاروي او هڅه کوي چې شعر او شاعري یې عام فهمه وي. نوموړي د خپل هنري عمر په اوږدو کې ډېر اثار چاپ کړي دي. تر ټولو مشهور یې (ستره معماري، د ژوندیو او مړو لپاره، د حقیقت خنډونه، د بالتیک ساحل، سندرې او خاپونه، د لارې د منځ رازونه، اوولس شعرونه او په انگلیسي ژبه د شعرونو یوه مجموعه یې چاپ شوي اثار دي.)

ترانسترومر د عصبي سکتې له امله نیمه فلج و، ښی لاس یې له کاره لوېدلی و، په خبرو کولو کې یې ستونزه لرله، په چپ لاس یې لیکل کول او همدا راز یې له موسیقۍ سره مینه وه. ده به پیانو غږوله، د بېکارۍ پر وخت یې له دې هنر خوند اخیست او لیکوالي یې کوله. په دې موده کې یې مېرمن د هغه ښی لاس وه، مرکې یې هغې مخ ته وړې، کارونه یې تنظیمول او د ده شاعري یې منظموله. د نوبل جایزې تر گټلو وروسته په ۲۰۱۵ کال کې د مارچ په ۲٦ مه د ۸۳ کلونو په عمر ومړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۵ |
| € | ۹۱,۹ |
| Rp. | ٤٨٠ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۱,٦ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# تاسې څنګه پلان شوي یاست؟

**ژباړه: امان الله حنیفي**

موږ ټول په ناخوداګاه کې پلان شوي یاستو، ځو مو باورونه، فکرونه او غوښتنې په فعلي ډول راڅرګند کړو. د نورو له خبرو سره سره چې موږ ته یې کوي، ډېری هغه عوامل او څیزونه چې موږ یې خپله ځان ته وایو او د ژوند ټولې تجربې مو څه ښې او څه هم بدې، ټول پر دې پلان اغېز لري. له موږ ډېری داسې پلان شوي چې په ډېرې اسانۍ سره خوشاله کېږي او ژر بریا لاسته راوړي، په داسې حال کې چې د ټولنې اکثریت بیا له هغوی سره په څنګ کې داسې پلان شوي چې ژوند ورته تر هرڅه سخت دی.

بده خبره دا ده که موږ په فعاله ډول خپله دا برنامه او پلان بدل نه کړو، زموږ بالقوه وړتیاوې له منځه ځي او بالاخره زموږ ژوند له تېرو محدودیتونو، وېرو او ناامنیو سره تړل کېږي. موږ باید د معمولي اوسېدو د له منځه وړلو او هغو کارونو د بیا نه تکرار لپاره چې له امله یې موږ د ګناه احساس لرو او یا یې هم له امله د ناکامۍ احساس کوو یو پلان جوړ کړو.

ښه خبره دا ده که هر وخت موږ وغواړو کولای شو خپل پلان او د خپلې خوښې وړ یې برابر کړو. موږ کولای شو چې خپل پلان مو بدل کړو، ځو مو پر وېرو، ناامنیو، بدو عادتونو او یا هم بل هر محدودوونکي عادت چې همدا اوس یې موږ لرو، برلاسي شو او په همدې ډول وشو کولای هغه ژوند ته چې موږ یې غواړو، لاسرسی پیدا کړو.

تاسې کولای شی له مثبتو باورونو په استفادې سره خپل ځان هغسې پلان کړی، څنګه یې چې تاسې غواړی او په راحتۍ سره په ځو ځو وارې تکرار سره ځان ته ووایئ: غواړم څنګه کس و اوسم؟ کوم څه ته رسېدل غواړم او څنګه کولای شم هغه ته ورسېږم؟

هر کار چې کوی، پر ځان ښه باور ولرئ او بالاخره ځان بریا ته ورسوئ. په کاپي تکرار سره ستاسې ناخوداګاه ضمیر بالاخره هغه څه چې تاسې یې وایئ، باور پرې کوي، هغه پیل کوي او د هغه پر اساس مخکې قدم اخلي او بالاخره دا هرڅه پر حقیقت بدلوي.

د کاغذ پر مخ ستاسې د باورونو لیکل تاسې ته دا امکان په لاس درکوي، ځو د خپل ځان په اړه یو بل نوی ذهني انتخاب وکړی، هغه انتخاب چې کولای شي تاسې مطلبو شرایطو او ذهني حالت ته چې ستاسې ایډیال دي، ورسوي. د یو مثبت باور په وار وار تکرار له ذهن سره د هغه په منلو کې مرسته کوي، چې بالاخره د هغه په پایله کې ستاسې د افکارو، باورونو او کړنو د بدلون لامل ګرځي. له هغه ځایه چې تاسې کولای شی د خپل ځان لپاره باورونه انتخاب او جوړ کړی، کولای شی په داسې ډول یې ځان ته طراحي کړی چې له تاسې سره بریا ته په رسېدو کې د افکارو، باورونو او چارو په ښه والي کې مرسته وکړي.

**د مثبتو باورونو د جوړولو لپاره درې ساده ګامونه**

ستاسې د لومړي مثبت باور د جوړولو لپاره دغه درې ساده ګامونه پورته کوو:

**لومړی ګام- تاسې رښتیا څه غواړی؟**

د باورونو د لیکلو هدف دا دی چې ستاسې اندېښنې، باورونه، کړنې او عادات ستاسې په ذهن کې داسې پلان کړي چې د جذب، نوښت او مطلوبې بریا د لاسته راوړلو لپاره هغه که د ژوند په هره برخه کې وي، هغه حیاتي ارزښت ولري. نو پر دې اساس، د باورونو په جوړولو کې ښه ده چې د ژوند په هره برخه کې د ځان لپاره یو ایډیال وټاکئ. تاسې کولای شی خپل باورونه په داسې شکل سره پلان کړی، ځو د ژوند په هره برخه کې ستاسې لپاره ټاکل شوې بریا ولري. نو ښه ده چې ښه په شفاف ډول په خپلو لیکنو کې هغه څه ولیکئ چې رښتیا یې تاسې غواړی او د ژوند په هره برخه کې د خپل ځان لپاره یو لرلید او یو ایډیال ذکر کړئ.

**دویم ګام- ولې هغه څیزونه غواړی؟**

هماسې لکه آدام استاک زما نږدې ملګري چې یوه ورځ ما ته ویل: «هوښیار خلک په «ولې» سره د هرڅه پیل کوي.» ټول غواړي چې خوشال، روغ او بریالي وي؛ خو هغه ته د رسېدو لپاره تر ښه پلان بل هېڅ بهتر څه نشته. هغه کسان چې د معمولي اوسېدو پر وېره برلاسي کېږي او ټولو هغو څیزونو ته لاسرسی پیدا کوي چې دوی یې غواړي، د دې ټولو لپاره یو فوق العاده «ولې» لري چې دا بیا هغوی ته ښه انګېزه ورکوي. هغوی کولا شي چې په ژوند کې د ځان لپاره یو مشخص هدف تعریف کړي، هغسې هدف چې د ژوند تر ټولو ستونزو او نیمګړتیاوو یې لوی وي. هغوی هره ورځ د خپلو هدفونو د لټې په احساس سره له خوبه راپاڅېږي.

په پوره باور سره تاسې همدا اوس په خپل وجود کې د هغه څه لپاره پوره پوهه، مهارت او دلایل لری کوم چې تاسې غواړی، هغه څه چې په لومړي قدم کې به هغه ته د رسېدو هڅه کوی. که د همدغه «ولې» ځواب کاملاً ستاسې لپاره واضح وي، هماغه دې چې هدفونه به مو محکم او هغه ته رسېدل به درته اسانه وي.

**درېیم ګام- هغه ته د رسېدو لپاره باید پر کوم کس بدل شی؟**

هماسې لکه زما لومړي مربي چې ما ته ویل، ستاسې ژوند یوازې هغه وخت ښه کېږي، کله چې تاسې خپل ځان منظم او ښه کړی. ستاسې بیروني نړۍ هغه وخت پرمختګ کوي، کله چې تاسې په ساعتونو ساعتونو وخت د هغه د پرمختګ لپاره ولګوئ. پر هغه کس بدلېدل چې تاسې باید شی او د لازمو کارونو تر سره کول؛ هغو څیزونو ته د رسېدو لازم شرطونه دي چې تاسې یې غواړی. هغه ته ژمن پاتې کېدل د دې باعث کېږي چې تاسې مو ژوند، کسب و کار، روغتیا او ګډ ژوند تر ټولو ښې او لوړې سطحې ته ورسوی.

## اروپايي ټولنه: د هدفي بریدونو او وژنو د عاملینو خوندیتوب دې ژر تر ژره پای ته ورسېږي



د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو سفیرانو په افغانستان کې پر رسنیو، مدني فعالانو او ملکي وګړو هدفي بریدونه غندلي دي.

اروپايي ټولنې پر ملکي وګړو بریدونه د افغانستان د سولې پر بهیر بریدونه بللي دي. د اروپايي ټولنې له خوا په ګډه خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې په افغانستان کې د ملکي وګړو د زیاتې مرګ ژوبلې مسوولین طالبان او نورې وسله والې ډلې دي.

په اعلامیه کې راغلي: «اروپايي ټولنه د رسنیو پر استازو، مذهبي ډلو او مشرانو، د بشري حقونو مدافعینو، محصلینو، مدني ټولنې او ملکي وګړو وروستي هدفمند او ناقانونه بریدونه په کلکو ټکو غندي. موږ همدا راز څرګندوو، په افغانستان کې د ملکي وګړو د زیاترو مرګ ژوبلو مسوولین طالبان او بېلابېلې تروریستي ډلې دي.»

خو طالبانو بیا تر دې مهاله د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو د سفیرانو ګډې اعلامیې ته غبرګون نه دی ښودلی. د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو سفیرانو په ګډه اعلامیه کې د جګړې له ښکېلو اړخونو څخه غوښتل شوي چې د رسنیو ازادي او مدني ټولنو له ازادیو څخه ملاتړ او دفاع وکړي. په اعلامیه کې ویل شوي چې د ورته پېښو د عاملینو مصونیت او خوندیتوب باید ژر تر ژره پای ته ورسېږي.

اروپايي ټولنه داسې مهال دغه بیان خپروي، چې د څه باندې یوې میاشتې په اوږدو کې په افغانستان کې دوه پېژندل شوي خبریالان ووژل شول.

په کابل کې د طلوع خصوصي تلویزیون پخوانۍ خبریال یما سیاوش او په هلمند کې د ازادي رادیو خبریال محمد الیاس داعي د چسپکي ماین په چاودنو کې ووژل شول. دغه راز په ورته چاودنو او هدفي وژنو کې پر نظامیانو سربېره، ګڼ شمېر مخور، مشران، سیاسي څېرې، د رسنیو او د مدني ټولنې فعالین او نور ملکیان وژل کېږي.

که څه د دغو پېښو پړه په ښکاره توګه څوک نه اخلي، خو حکومت یې پړه پر طالبانو اچوي.

## هوايي چلند اداره: اروپايي ټولنې له تور لېسته د افغان هوايي شرکتونو د ایستلو لپاره اته شرطونه اېښي




د افغانستان د هوايي چلند اداره وایي چې د دغې ادارې پر وړاندې لوی خنډ اروپا ته د افغانستان د هوايي شرکتونو د فعالیتونو پراخېدل دي. د یادې ادارې د مسوولینو په وینا اروپايي ټولنې له تور لېسته د افغانستان د هوايي شرکتونو د ایستلو لپاره اته شرطونه اېښي.

د یادې ادارې ویاند محمد نعیم صالحي وایي: «یو شرط یې د خپلواکې ملکي هوايي چلند ادارې رامنځته کول دي، چې اوس موږ یوه خپلواکه اداره لرو، د هوايي چلند برخې پورې اړوند د ځینو قوانینو جوړول، د اروپاي ټولنې یو بل شرط و، موږ تمه لرو چې د اروپايي ټولنې د ټولو شرطونو په پوره کولو سره د هوايي چلند د خدمتونو معیاري سیستم رامنځته کړو، ځو د اروپايي ټولنې له تور لېسته ووځو.» د نوموړي په وینا، د کرونا ویروس په خپرېدو سره د دغې ادارې عواید ۴۰ میلیونه ډالره کم شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په تېرو میاشتو کې د کرونا ویروس د خپرېدو له امله د افغانستان له هوايي فضا په یوه شپه او ورځ کې د هوايي پروازونو شمېر له ۴۰۰ نه ۱۵۰ ته راښکته شوی دی.

د صالحي په خبره، افغانستان له هر هوايي پرواز ۷۵۰ ډالره حق العبور اخلي، خو په خبره یې، دغه رقم به په راتلونکي کال کې د ادارې له لوري د معیاري خدمتونو د وړاندې کول له امله ۹۵۰ ډالرو ته لوړ شي.

نوموړی زیاتوي، د افغانستان د هوايي دهلېز ډېری پروازونه له شمال څخه جنوب ته او دغه شان له همدې لارې له اروپا، امریکا او کاناډا؛ جنوبي اسیا ته ځي او له ختیځ لوېدیځ ته یو بل دهلېز هم رامنځته شوی دی.

د یادونې ده چې په افغانستان کې اوسمهال درې کورنې هوايي شرکتونه، اریانا، باختر او یو خصوصي شرکت کام ایر فعالیت لري او له ۱۱ زیات بهرني شرکتونه ورته الوتنې لري.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر اتمه | ٦٤٢مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۹ | ۱۳ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۲ |
| -۳ | -۲ | ۲ | ۱ | ۷ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۸ | لمر ختل ۰٦:٤٧ | ماسپښین ۱۱:٤٦ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ٠٤:٤٣ | ماخوستن ٠٦:۱۳

## نړۍ




## اردوغان: د اروپايي ټولنې د زورواکۍ پر وړاندې تر وروستي حده درېږو



د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان ويلي چې په مديترانه کې به د اروپايي ټولنې د زورواکۍ پر وړاندې تر خپل وروستي حده ودرېږي. نوموړي ويلي، هغوی چې د مسائلو سوله‌ييز حل غواړي، خبرو ته ورسره چمتو دي، خو که يو څوک زورواکي کوي، نو دوی هم د هر ډول زورواکۍ او امپرياليستي مفکورې پر وړاندې د مقابلې وړتيا لري او هېڅکله به له خپل حق څخه يوه لوېشت هم په شا نه شي.

اردوغان زياته کړې، ترکيه په مديترانې سمندر کې تر ټولو اوږده ساحلي کرښه لري او دوی په وار وار روښانه کړې چې له خپل حق څخه نه تېرېږي. نوموړي دا څرګندونې وروسته تر هغه کړې دي چې اروپايي ټولنې ويلي، ښايي پر ترکيه ځينې بنديزونه وضع کړي. دا په داسې حال کې ده چې ترکيه له ډېر پخوا راهيسې له يونان سره د مديترانې سمندرګي پر يو شمېر سيمو دعوا لري، چې دواړو هېوادونو پر يادو سيمو جګړې هم کړي دي. خو د ترکيې او يونان ترمنځ دا کړکېچ يوځل بيا وروسته له هغې زور واخيست چې په دې وروستيو کې ترکيې اعلان وکړ چې په مديترانې سمندرګي کې يې د نفتو پراخې زېرمې موندلي دي، خو يونان بيا ادعا کړې چې دا سيمه د دوی د قلمرو برخه ده. له سره هممهاله اروپايي ټولنې ترکيې ته خبرداری ورکړی چې که په سيمه کې د کړکېچونو له ډېرېدو لاس پر سر نه شي، له سختو بنديزونو سره به مخ شي.

## تازه شمېرې: په امريکا کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې له ۱۵ ميليونو واوښتې

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې ٦٧ ميليونه او ۵۲۵ زره او ۲۰۵ ته رسېدلې دي. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله يو ميليون او ۵۴۴ زره او ۲۸ کسان مړه شوي او نږدې ۴۷ ميليونو تنو بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امريکا متحده ايالتونه د کرونا ويروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امريکا کې د دغه ويروس ټولې ۱۵ ميليونه او ۱٦۷ زره او ۲۹٦ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۸۸ زره او ۹۸۱ نور امريکايان ترې مړه شوي دي. له امريکا وروسته هند د نهه ميليونه او ٦۸۳ زره او ۸٦٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د شپږ ميليونه او ٦۰۳ زره او ۵۴۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېيم، روسيه د دوه ميليونه او ۴۸۸ زره او ۹۱۲ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه ميليونه او ۲۹۲ زره او ۴۹۷ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي. دغه راز ايټاليا، برېټانيا، هسپانيا، ارجنټاين او کولمبيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## اداره ملی احصائیه: در شش ماه گذشته فقر در افغانستان ٦درصد کاهش یافته است




علی‌رغم محدودیت‌های ناشی از شیوع ویروس کرونا، اداره ملی احصائیه افغانستان از کاهش شش درصدی فقر در شش ماه نخست امسال در این کشور خبر داده است.

اگر چه ویروس کرونا به بیشتر کشورها ضربه اقتصادی وارد کرد، اما اداره ملی احصائیه افغانستان می‌گوید وضعیت اقتصادی این کشور بهبود یافته است.

این اداره دیروز نتایج بررسی خود را در مورد وضعیت اقتصادی این کشور همگانی کرد. این بررسی به حمایت فنی بانک جهانی، یونیسف، سازمان زراعت و غذا و سازمان جهانی کار در ۳۴ ولایت براساس مصاحبه با ۱۳٦ هزار ۸۴۸ نفر در یک سال انجام شده است. براساس این تحقیق، وضعیت میزان فقر، بیکاری، کارشاقه کودکان، سطح سواد جوانان و بزرگسالان بهبود یافته‌است. احمدجاوید رسولی، رئیس اداره ملی احصائیه و معلومات به خبرنگاران گفت که ویروس کرونا به اقتصاد کشورهای صنعتی آسیب رسانده و اقتصاد افغانستان به دلیل عدم وابستگی آن به منابع صنعتی و سرازیر شدن کمک‌های جهانی آسیب چندانی ندیده‌است.

آقای رسولی افزود: «ما اگر این‌گونه مقایسه کنیم که بیشتر صنعتی هستیم یا زراعتی، نظر به ارقامی که داریم زیادترین کار و عاید ما را سکتور زراعت تشکیل می‌دهد. پس در وقتی که کرونا بوده، سکتور زراعت ضربه ندیده‌است و به شکل نورمال (عادی) امورش به پیش رفته است. این بسیار به وضاحت نشان می‌دهد که ما با کشورهای دیگر تفاوت داریم.» بربنیاد آمار اداره ملی احصائیه افغانستان، میزان فقر در شش ماه نخست امسال، که اوج شیوع ویروس کرونا در این کشور بود، تا شش درصد کاهش یافته است.

## ژوند


## شین او تور چای دواړه ګټور دي



که غواړی چې د عمر له زياتېدو سره مو رواني روغتيا له لاسه ورنه کړی، نو هره ورځ ۳ ګيلاسه چای وڅښئ. هره ورځ ۳ ګيلاسه چای څښل د ذهني ناارامۍ مخه نيسي او يادابښت ورسره پياوړی کېږي. همدا ډول چای د ذهن د الزايمر له ناروغيو مخنيوی هم کوي او د دغو ناروغيو ګواښ کموي. نويو څېړنو ثابته کړې چې په ټولو هغو بوټو کې چې په چای کې ترې ګټه اخيستل کيږي، داسې انټي اکسايډنټس فليونولزونه موجود دي چې له امله يې ذهني ناارامي ختمېږي او ذهني يادابښت ورسره پياوړی کيږي. رش پوهنتون په يوې نوې څېړنه کې دا ثابته کړه، چې په ټولو هغو بوټو او شنو نباتاتو کې چې په چای کې ترې استفاده کېږي، داسې انټي اکسايډنټس فليونولزونه موجود دي، چې له امله يې ذهني ناارامي ختمېږي او ذهني يادابښت ورسره پياوړی کېږي. همدا ډول په دغو نباتاتو کې چې په چايو کې استعمالېږي، داسې منرالونه او نور روغتيايي مواد شته چې د ذهن د ناروغيو مخه نيسي.

## اینفنیکس نوی ځیرک موبایل معرفي کوي

اینفنیکس کمپنۍ خپل نوی غوره ځانګړنې او ارزان بیه لرونکی ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړی. دغه ځیرک موبایل اینفنیکس زیرو ۸ای (Ai Infinix Zero۸) نومول شوی دی. دغه ځیرک موبایل له ۹۰ هرتز ریفرېش ریټ څخه ملاتړ کوي او ۴۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري. زیرو۸ای کې ٦,۸۵ انچه فول اېچ ډي پلس او ۱۰۸۰، ۲۴٦۰ ریزلوشن لرونکې ستره مخ‌پاڼه او د میډیاټېک کمپنۍ هېلیو جي۹۰تي ډوله پروسېسر او مالي-جي۷٦ ډوله جي پي یو ورکړل شوې ده. ۸ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري. کاروونکي د میموري کارت په کارولو سره د فایل ثبتونې وړتیا ۲۵٦ ګېګابایټ ته لوړولی شي. شاتنۍ برخه



کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اینګل، ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر او اې ای (AI) کامرې په کې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې د سېلفي لپاره دوې کامرې لري چې ۱٦ مېګاپکسله اصلي کامره او ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اینګل کامرې دي. د دغه ځیرک موبایل بېټرۍ له ۳۳ واټ چټک چارج ټکنالوژۍ څخه هم ملاتړ کوي.

عزیزی بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

